مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۶/۰۶/۲۳

# لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## ۳۸۶مه برخه

**یوموټی زړه دی، هوښیار اوسه**
**چې داسې هرشي ته یې خورې، تمام به شینه**

**ښېرې کوم، امین پرې وایئ**
**څوک چې کابل ویجاړوي، برباد دې شینه**

**د بې‌وفا خلکو قانون دی**
**په خوله به ستا، زړه کې د بل ارمان لرینه**

**د کلي برسر کې مې کور دی**
**غم چې راځي اول زما تپوس‌کوینه**

د لنډیو د دې برخې لەپاره دا لاندې لنډۍ راټولې شوې دي:

**پرزړه مې غټه‌تیږه کېښوه**
**د تا یادونه بیا جګ نه‌کړي سرونه**

**پر زړه مې خپل‌وطن وریږي**
**نه مې خوښېږي په دوبۍ کې بیلډنګونه**

**پوه نه‌شوم کوم لوري ته لاړې**
**خړې‌کوڅې، خړ دېوالونه پاتې شوونه**

**پرنورو بوره مه‌شې موري**
**بوره پر ما شې چې له ژونده ستړۍ‌یمه**

**پر ما دې ځوانه‌ځواني اور کړه**
**پر تا دې اور شي د همځولو مجلسونه**

**پرېږده چې ړنګه‌شي ریباره**
**د زور یاري ده، دزړه ویني وچوینه**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**پاچا که اورې، غبر مې واوره**
**د قام بچې دې اولادونه خرڅوینه**

**پیکی دې پولې - پولې جوړ کړه**
**ما پرې دهقان کړه چې لونګ پرې وکرمه**

**په میلمنو دې ډزې وشه**
**تر نیمې شپې پورې یوازې ناسته یمه**

**په ښار کې شا ته، شا ته ګورم**
**د خپل لالي په شانتې غږ مې واورېدنه**

**ببلتون دې داسې ملک ته بوتلم**
**پر تا ماښام، خو پر ما زیېړمازدیګر وینه**

**بیا به نری کمیس ونهکم**
**پرون باران و، جانان ټوله ولیدمه**

**چې نیمهشپه شي، غم دې زور شي**
**جامې مې اورشي، راله سوځي اندامونه**

**چې پرې به کورمالت ښایسته و**
**هغه ځوانان پردو ملکو خوړلي دینه**

**څهوخت به بلوطن کې تېرکړم**
**چې دې د حسن دوران تېر شي، رابهشمه**

**د بېوفا خلکو قانون دی**
**په خوله به ستا، زړه کې د بل ارمان لرینه**

**د خپل زړګي رضا دې وکړه**
**ما ته دې شک په مینه بیا راولوېدنه**

**د ببلتانه ماښام مې وژني**
**له کوره تللي خلک ولې نهراځینه**

**د کلي برسر کې مې کور دی**
**غم چې راځي اول زما تپوسکوینه**

**د جانان دې کبر ته ګوره**
**د سپینې خولې لاړې پرمځکه غوورځوینه**

**راځه پر دې بې فیصله کړو**
**اوبه چې ډنډ شي د ډیزلو بوی کوینه**

**زړګیه دواړه کاره نهشي**
**یا به تعلیم وي، یا د خوږجانان غمونه**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زړه به مي څهخوشالي وکي
د خوشالی خلک خو ورک له ملکه دينه

سر مي په کاڼوو د ويشتو دی
چې زه په داسې بېوفا مئـنـيـدمه

سا مي پردي وطن کې خيژي
دومره څوک نهشته چې مي زنه وتړينه

ستا خو به کور د ميني جوړ شي
زما د زړه داغ به جوړ نهشي، مړ به شمه

ستا په وعدو مې باور نهشته
جانانه ستا وعدې، ترتا نازکې دينه

سترگې په کوملوري کږېکړم
زما د ناز عالم خو توري خاوروې شونه

سپينهسپوږمی پر اسمان راغله
هغه رانغله، چې يې پروت له غمه يمه

ښېرې کوم، امين پرې وايئ
څوک چې کابل ويجاړوي، برباد دې شينه

ليونی ډېره مې يادېږې
دوعا کوه چې حافظ مې ختمهشينه

لاليه ښه يې، تابه ښه دو
کيسي دې لنډې خلاصوه، زه درنه ځمه

لاليه گرم نهيې چې خاندې
تا د ښلتونه دردونه څه ليدلي دينه

لالی مې هيڅ ملامت نهدی
د پښتنو رواج ته څوک د تينگې دينه

مورې دوعا دې راپسې که
خلکو له خوږ گوتې نه بيا نيولېيمه

مسافرېشوه، جانان لاړو
غمجنې شپې به په کې څنگه تېرومه

ما ته استادملا ويلي
د پشمدارې سينې نهشته عذابونه

يوموټې زړه دی، هوښيار اوسه
چې داسې هرشي ته يې خورې، تمام به شينه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**يا مې پر غونډه زنه خال كه**
**يا مې رومال كه چې همېش درسره‌يمه**

**كوټه له تورو لوګو ډكه**
**ماته تكيه شه، دېوال ډډې توروينه**

**كتاب ته ناستېمه، زنګېږم**
**خيال كې مې ته يې، پاڼې دوې، دوې اړومه**

**خلكه وفا چا سره مه‌كړئ**
**ما ته كچكول خپلې وفا په غاړه كړونه**

**جګرې مو شته كورونه وران كړل**
**پردي كورونه به ترڅو ابادونه**

**الله دې تا پر چا مئېن كړي**
**چې تن دې روغ وي، زړه دې پټ كوي دردونه**

**ايله مې پل د پښو درپاتې**
**څو پناه‌كېږم. باد هغه هم ورانوينه**

**تر هديرې مې پسې بوزئ**
**ما مې لالي ته د مرګي ويلي‌ونه**

نوربيا

د ليكوال نورې ليكنې په لاندې لينک كې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكنې د ليكنيزې بڼې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكې په ځير و لولئ